# د بیاابادوني ګڼ اداریز مرکز [Multi-Agency Recovery Center] څه دی؟

د بیاابادوني ګڼ اداریز مرکز (**MARC**) "ون سټاپ شاپ دی" چیرې چي عامه او شخصي اداري راټولیږي ترڅو د ناورین په اوږدو کي مرسته وړاندې کړي.

**د MARC په خدمتونو کي شامل دي:**

- داسي ځای چي د کورنیو، ملګرو، او د ټولني غړو دپاره د غونډې د ځای په توګه ترې استفاده کیږي د غټو توکو وېشانه
- د لنډمهاله کور په موندلو کي مرسته
- د مرستي ترلاسه کولو، د قضیي د کار بهیر او نورو خدمتونو ته د مراجعو په اړه مالومات
- احساساتي او روحاني پاملرنه، سره د روغتیا او رواني روغتیا خدمتونو (د ټولني او د MARC د کاري ډلي او رضاکارانو دپاره)
- بریښنالیک، ټولنیزه رسنۍ، او د یوځای کولو وسیلي لکه امریکایي سور صلیب "سېف او ویل " وېب پاڼه، کوم چي د ناورین له خوا اغېزمن شویو کسانو ته دا وړتیا ورکوي چي راجسټر شي او د کورنۍ غړو ته د خپل حالت او ځای په اړه خبرتیا ورکړي.

**MARCs د دې دپاره جوړ کړل شوي دي چي:**

- ✓ د ناورین څخه وروسته بیاابادونه چټکه کړي
- ✓ پر "ون سټاپ شاپ " کي موثره او اغېزناکه مرسته چمتو کړی
- ✓ هغه وخت او سفري واټن راټیټ کړي کوم چي د اغېزمنو وګړو او کورنیو دپاره اړین وي ترڅو د ناورین څخه وروسته مرسته ترلاسه کړي
- ✓ د کورنۍ او ملګرو په یوځای کولو کي مرسته
- ✓ د ګډ سرچینو کارونه لوړه کړي او د ادارو وړتیا چټکه کړي چي په لاندې لارو چاروې خدمتونه وړاندې کړي:
    - د ګڼو ادارو له خوا د انفرادي مرستي مرکزونو جوړولو اړتیا له منځه وړل
    - د ګډونوالو ادارو ترمنځه همکاري او مالومات شریکولو کي اساني راوستل
- ✓ چي د دولتي او نادولتي ادارو سره د اغېزمني همکارۍ وړتیا ورکړي
- ✓ اوږدمهاله بیاابادوني ته لېږد اسان کړي